# بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ». «د الله په نوم دې دموم، له هر هغه شي نه چې تا ځوروي، د هر نفس او د حسد کوونکي له بد ﷺ څخه، الله دې شفا درکړي، د الله په نوم دې دموم

له ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې: جبرائيل عليه السلام نبي ﷺ ته راغی او ويې ويل: اې محمده! ناروغ يې؟ هغه وفرمايل: هو، ويې ويل: «بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ». «د الله په نوم دې دموم، له هر هغه شي نه چې تا ځوروي، د هر نفس او د حسد کوونکي له بد ﷺ څخه، الله دې شفا درکړي، د الله په نوم دې دموم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

جبرائيل عليه السلام نبي ﷺ ته راغی او ترې يې وپوښتل: اې محمده! ته ناروغ شوی يې؟ هغه وفرمايل: هو. نو جبرائيل نبي ﷺ پدې ويناوو سره دم کړ: «باسم الله» د الله په نوم، په هغه مرسته غوښتونکي، «أرقيك» تا دموم او تاته پناه غواړم، «من كل شيء يؤذيك» د هر هغه شي له شر څخه چې تا ځوروي، هغه که کوچنی وي او يا لوی، «من شر كل نفس» خبيثة، د هر خبيث نفس له شر څخه، «أو عين حاسد» او يا د حسد کوونکي له نظر څخه، چې تاته بد در ورسوي، «يشفيك» الله تعالی دې شفا درکړي، او له ټولو ناروغيو دې تا وساتي، «باسم الله أرقيك» د الله په نوم دې دموم، د مبالغې لپاره يې الفاظ تکرار کړل، پيل او پای يې په همدې الفاظو وکړه، او پدې کې دېته اشاره ده چې له هغه سپېڅلي ذات پرته بل څوک نفع رسوونکی نشته.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee